AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

واحد فقيری ۲۰۱۸/۱۰/۲۳

# ګورباچوف: رفيق کارمل جدي رواني مريضي لري، او بايد معالجه سي

ښاغلی پال ګوبل د اکتوبر پر ۲۲ په ويډو ان يوريشا کي ليکي: ديرش کاله پخوا، مسکو په افغانستان کي خپل لس کلن نظامي اشغال ختم کړ. د افغانستان اشغال د شوروي لپاره ډير ګران تمام سو. ښاغلی سامونين هله د (کي جي بي) عالي رتبه مامور و. هغه وايي (کي جي بي) او د شوروي د کمونسټ حزب کانګرس د افغانستان له نظامي اشغال سره مخالفت کاوه، خو د شوروي اتحاد فوج د افغانستان پر اشغالولو باندي اصرار کاوه، ځکه هله د شوروي استخباراتو ويل چي د امريکا استخبارات (سي ای ی) په افغانستان کي فعاليت کوي .

ښاغلی سامونين وايي دا خبري اوس ډير مبهمي دي، ځکه اکثرو هغو خلکو چي د افغانستان د اشغال پلوي کوله، اوس وايي چي مخالفت ئي کاوه. سامونين هله په افغانستان کي د کي جي بي ايجنټ و. هغه وايي په ۱۹۷۹ کي د کابل رژيم اصرار کاوه چي مسکو بايد افغانستان مسلح قواووي ورواستوي، خو مسکو مقاومت کاوه .

سامونين وايي کي جي بي او د کمونسټ حزب کانګرس ځکه مخالفت کاوه چي د افغانستان نظامي اشغال به هم د ډيټانټ پاليسي او هم به د ۱۹۸۰ اولمپيک خراب کړي. بل خوا، د همدې دوو سازمانونو مشرانو د کيوبا د توغنديو بحران په ياد وو، او هغوی نه غوښتل چي يو کرت بيا هغه بحران تکرار سي .

مګر د شوروي اتحاد فوج غوښتل چي په افغانستان کي نقش ولري، او دغه راز هغوی غوښتل چي نه يوازي محلي مخالفانو سره مقابله وکړي، بلکي په افغانستان کي د امريکائي استخباراتو سره هم مجادله وکړي .

سامونين وايي د اشغال فقط يوه مياشت مخکي، د شوروي اتحاد د اردو ځيني غړي کابل ته راغلل، او «ما ورته وويل چي شوروي اتحاد به د انګريزانو په برخليک ګرفتاره سي. شوروي به يوازي په افغانستان کي ناکامه نه سي، بلکي په نورو ځايونو کی به هم صدمه وګوري. خو زما خبرو د شوروي پوځيان سخت په قهر کړل.»

هغه وايي د افغانانو مطلق اکثريت د شوروي د اشغال او عسکرو مخالف ول. هغه وايي نه يوازي افغانان زموږ مخالف ول، بلکي سي آی ای هم خپل پروپاګند ته کش ورکړ. هغوی افغانانو ته ويل چي شورويان به هغوی له خپل مذهب او دين څخه منع کړي، ښځي به عام ملکيت سي، او د هغوی ماشومان به شوروي ته واستول سي .

ښاغلی سامونين وايي د کابل رژيم مشرانو هم افراطي پاليسيو ته مخه کړه، او د ځان لپاره ئي مشکلات لا زيات کړل. هغه وايي په ۱۹۸۶ کي ببرک کارمل د کمونسټ حزب د کانګرس په ۲۷ مه غونډه کي ګډون درلود. کله چي کارمل د ګورباچوف خبري واورېدلي، هغه وويل،«ګورباچوف رشتين کمونسټ نه دئ، او بايد پسي واخيستل سي.» کله چي د کارمل خبري ګورباچوف ته ورسېدلي، ګورباچوف وويل،«که چيري رفيق کارمل دا خبري کړي وي، دا پر دې دلالت کوي چي هغه سخت رواني مريضي لري، او معالجې ته اړتيا لري.» لدې راوروسته، ببرک کارمل له قدرته پسي واخيستل سو، او په روغتون کي واچول سو. دا يو ډول جبل و. سمدستي محمد نجيب د هغه پر ځای نصب سو. هغه وايي د نجيب نصبول ښه فيصله وه، ځکه همدا تصميم د شوروي د راوتلو لپاره لاره هواره کړه.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ